UNITED NATIONS　　　　NATIONS UNIES

**د بشري حقونو د ورځې په وياړ**

**د ملګرو ملتونو د عمومي منشي پيغام**

د ډسمبر ۱۰، ۲۰۱۰

بشري حقونه د آزادۍ، سولې، پرمختيا او عدالت بنسټ او په ټوله نړۍ کې د ملګرو ملتونو د کار اساسي برخه ده. هغه قوانين چې د بشري حقونو ساتنه وکړي او وده ورکړي ضروري دي. خو ډيری وخت خلکو ته په دې لار کې پرمختګ ورو وي.... زړه ورې ښځې او نارينه...هڅې کوي چې د خپلو او نورو وګړو د حقونو ساتنه وکړي... د دې عزم لري چې د خلکو په ژوند کې حقونو ته واقعيت ورکړي.

دا همدغه د بشري حقونو مدافعان دي چا ته چې د سږ کال د بشري حقونو ورځ موږ ځانګړې کوو. مدافعان يوه متنوع ډله ده. هغوي کيدلای شي چې د مدني ټولنې د سازمان برخه وي، يو ژورنالست او يا هم يو تبعه وي، چې دې ته چمتو وي چې کور ته نږدې د تيريو په وړاندې عمل وکړي.

خو هغوي ټول دې ته ژمن وي، چې ناوړه اعمال رابرسيره او جوت کړي، د ډيرو زياتو زيانمنيدونکو ساتنه وکړي او معافيت ته د پای ټکی کيږدي. هغه ودريږي او څرګندونې کوي.. او نن ورځ هغوي د آزادۍ او بشري وقار لپار غږيږي.

د بشري حقونو مدافعان د تبعيض په وړاندې په مبارزه کې اساسي رول لوبوي. هغوی د تيريو څيړنې کوي او د قربانيانو سره مرسته کوي څو عدالت ته ورسيږي او ملاتړ يې وشي. زياتره وخت د دوي فعاليت دوي ته د ستر ګواښ لامل ګرځي.

مدافعان ځورول کيږي، د خپلو دندو ګوښه او په ناوړه توګه زنداني کيږي. په ډيرو هيوادونو کې هغوی شکنجه کيږي، وهل او وژل کيږي. همدارنګه د هغوي دوستان او د کورنۍ غړي هم د ځورونې او ډارونې سره مخ کيږي. د ښځو د بشري حقونو مدافعان د لا زياتو خطرونو سره مخ کيږي، نو ځکه هغوي لا زيات ملاتړ ته اړتيا لري.

د سږ کال د بشري حقونو ورځ يو جلا مناسبت دی څو چې په هر ځای کې د بشري حقونو د مدافعانو زړه ورتيا او لاس ته راوړونو ته درناوي وشي- او د دې ژمنه ولرو څو د هغوي د فعاليت د جارې ساتنې په موخه ډير څه تر لاسه کړو.

دا د دولتونو لومړنی مسووليت دی څو د بشري حقونو د مدافعانو ساتنه وکړي. زه پر ټولو دولتونو غږ کوم څو د بيان آزادي او د راغونډيدو ازادي چې د هغوي د کار او فعاليت امکانات چمتو کوي باوري کړي.

کله چې د بشري حقونود مدافعانو ژوند له خطر سره مخ وي نو موږ لږ خونديتوب لرو. کله چې د بشري حقونو د مدافعانو غږونه خاموش وي نو عدالت پخپله ډوبيږي.

د سږ کال د بشري حقونو د ورځې په مناسبت راشئ له هغه چا څخه الهام ولرو چې د دې لپاره هڅه کوي چې زموږ نړۍ لا زياته عادلانه کړي. او راځئ چې د هر هغه چا يادونه وکړو – پرته له دې چې څه ډول شاليد، روزنه او زده کړه لري – چې د بشري حقونو اتل به وي.

نور راځئ چې دغه ځواک وکاروو. راځئ چې موږ هر يو د بشري حقونو مدافع و اوسو.